

## ستاسو معاینه څنګه ترسره کېږي؟

معاینه کوونکی ستاسو د ستوني، پزې، او لاړو په شمول په سوابونو کې ستاسو څخه د معایناتو لپاره نمونې اخلي او بیا یې لابراتوار ته استوي ترڅو ستاسو څخه په اخستل شوو نمونو کې د کرونا ویروس شتون وپلټي. ستاسې پایلې کېدای شي د ۲۴ څخه تر ۴۸ ساعتونو پورې بېرته راشي. د پایلو د ترلاسه کولو لپاره، تاسو سره به بیا اړیکه ونیول شي. په مهربانۍ سره په ځیر سره غوږ شی او ټولې هغه لارښوونې وڅارئ چې د پایلو د وړاندې کولو په وخت کې درته ویل کیږي.


Azerbaijan Society
OF MAINE
*Celebrating cultural heritage*

P.O. Box 8777
Portland ME 04104
AzeriSocietyofMaine@gmail.com
**www.azemaine.com**





# د کووید-۱۹ معاینه
## څه تمه ولرو:

Azerbaijan Society
OF MAINE

# د معاینې نه وروسته د لاندې درېو حالتونو تمه ولرۍ:

## 1 که چېرې د کرونا ویروس نښې ولری اما ستاسې د معاینې پایله منفي وی:


- دا پدې معنی ده چې تاسې د معاینې په وخت کې پدې ویروس اخته شوی نه یاست.
- سره لدې هم، په ځینې خلکو کې دا امکان شته چې ویروس ولري اما د معاینې پایله یې منفي وي.
- دا پدې معنی ده که څه هم ستاسې د معاینې پایله منفي وي، خو بیا هم د دې امکان شته چې د کرونا ویروس ولری.
- سپارښتنه کېږی چې د نښانو د پیل څخه لږ تر لږه ۱۰ ورځې په کور کې پاتې شی او یا تر وخته چې د تبې کمولو درملو نه پرته دری ورځې تبه ونلری او تنفسي نښې مو د ښه کېدو په حال کې وي.
- که حالت مو ډېر خراب وي، لکه د ساه اخستلو ستونزه ولری، نو له خپل ډاکتر سره اړیکه ونیسی. که غواړی د ډاکتر سره وګوری نو لومړی ورته زنګ ووهی. تر هغه پورې کلینیک ته مه ځی تر څو مو چې د ډاکتر سره په تلیفون خبرې نه وي کړې.



ماسک یا د مخ پټولو ټوټه واغوندی



په کور پاتې شی
ځان ګوښه کړی




ټولنیز واټن وساتی

## 2 که چېرې د هغه چا سره له نږدې پاتې شوي یاست چې د کرونا ویروس ولري او ستاسې پایله منفي وي:

- دا پدې معنی ده چې د معاینې په وخت کې تاسې په ویروس ککړ شوي نه یاست.
- تاسې بیا هم په ویروس د اخته کېدو په خطر کې یاست او کېداشی نورو ته یې هم ولېږدوی که څه هم ستاسې پایله منفي وي. دا ځکه چې تاسې له په کرونا ویروس اخته ناروغ سره یو ځای پاتې شوی یاست.
- **تاسې باید له هغه وخت څخه چې په کرونا ویروس اخته کس سره مو د ۶ فوټو نه په کم واټن کې اړیکه نیولې وی، تر ۱۴ ورځو پورې په کور کې پاتې شی او نښې کولای چې د کار ځای ته لاړ شی.** که چېرې ستاسې د کارځای لپاره یادښت یا خط ته اړتیا وي، نو مهرباني وکړی موږ ته خبر راکړی.
- له ټولو هغه خلکو سره چې ژوند کوی لږ تر لږه ۶ فوټه واټن وساتی.
- خپل لاسونه بیا بیا په اوبو او صابون ومینځی، که اوبو او صابون ته لاسرسی نه وي، د لاس د ضد عفوني مایع څخه چې لږ تر لږه ۶۰٪ الکل ولری ګټه واخلی.
- د مېن CDC دفتر له تاسو سره اړیکه نیسي تر څو د هغو نښو په اړه درسره وغږیږي چې کېدای شي په راتلونکو ۱۴ ورځو کې رامنځته شي. دا ډېره اړینه ده ترڅو د مېن CDC تلیفون ته ځواب ورکړی.
- اړینه ده چې د مېن CDC سره د ټولو هغه خلکو معلومات شریک کړی چې تاسې ورسره له نږدې څخه اړیکه نیولې وي ترڅو دوی وکولای شي د هغوی د روغتیا او خوندیتوب سره مرسته وکړي.
- که ناروغ شوی، له خپل ډاکتر سره اړیکه ونیسی. تر هغه پورې ډاکتر ته مه ځی تر څو مو چې د هغه له دفتر سره په تلیفون خبرې نه وي کړې.
- کله چې د کور د ننه له نورو سره یوځای یاست او یا د ډاکتر دفتر ته ورځی، نو خپل مخ په ټوکریزه ټوټه وپوښی.

د مېن CDC د کرونا ویروس په هکله د معلوماتو وېبپاڼه

www.maine.gov/dhhs/mecdc/infectious-disease/epi/airborne/coronavirus.shtml

## 3 ستاسو د کرونا ویروس د معاینې پایله مثبته ده:

### الف. که نښې کمې یا شتون ونلری: (د ۲ امر مطابق عمل وکړی)

- لږ نښې نښانې، لکه ستاسو، چې په کور کې اداره کېدای شي.
- تاسې د کرونا ویروس د درملنې لپاره انتی بیوتیک ته اړتیا نلری.
- کله چې تاسې ناروغ یاست، اړینه ده چې د خپلې کورنۍ غړی خوندي او روغ وساتی.
- د هر چا سره چې تاسو ژوند کوئ د ۶ فوټو څخه کم واټن کې د اړیکې مخنیوی وکړئ، ترڅو خپلې کورنی ته ویروس و نه لېږدوئ.
- کله چې د کور د ننه له نورو سره یوځای یاست او یا د ډاکتر دفتر ته ورځی، نو خپل مخ په ټوکریزه ټوټه وپوښی.
- که کولای شی په یوه جلا کوټه کې پاتې شی او له جلا تشناب څخه ګټه واخلی.
- تاسې باید ډوډی په خپله جلا کوټه کې وخوری، ترڅو له نورو جلا و اوسی.
- کچېرې د کور د نورو غړو سره مو تشناب یوځای وي، نو د هر ځل ګټې اخستنې څخه وروسته یې په ضد عفوني مایع پاک کړئ.
- خپل لاسونه بیا بیا لږترلږه د ۲۰ ثانیو لپاره په اوبو او صاوبون ومینځئ. که اوبو او صابون ته لاسرسی نه وي، د لاس د ضد عفوني مایع څخه چې لږترلږه ۶۰٪ الکل ولری ګټه واخلی.
- په څو ځله لمس کېدونکې ځایونه، لکه مېزونه، د دروازو لاس نیوونکي، د څراغونو سویچونه، لاستي، تشنابونه، د اوبو نلونه، د لوښو مینځلو ځایونه، او برېښنایي شیان پاک کړي.
- له کور څخه بهر مه ځی مګر پداسی حال کې چې د ډاکتر سره لیدنه لرئ.
- نرس به تاسو ته ډېر ژر زنګ ووهي ترڅو ستاسې د حالت پوښتنه وکړي، او دوی به تاسو ته تر هغه پورې زنګ وهي ترڅو چې ستاسو حالت ښه شي.
- د مېن CDC به هم تاسې ته زنګ ووهي. ډېره مهمه ده چې د دوی تلیفون ته ځواب ورکړئ.
- تاسې باید تر هغه پورې کور کې پاتې شی ترڅو ونه کولای شی کرونا ویروس بل چاته ولېږدوی.
- د مېن CDC به تاسو سره مرسته وکړي او پدې به مو وپوهوي چې کله تاسې نورو ته ویروس نه خپروی، نو بیا کولای شی په خوندي توګه د کور څخه بهر شئ. دا باید لږترلږه ۱۰ ورځې ونیسي ترڅو د کور د ننه پاتې شئ.
- د مېن CDC دفتر له تاسو سره اړیکه نیسي تر څو د هغو نښو په اړه درسره وغږیږي چې کېدای شي په راتلونکو ۱۴ ورځو کې رامنځته شي. ډېره مهمه ده ترڅو د مېن CDC تلیفون ته ځواب ورکړی.
- • اړینه ده چې د مېن CDC سره د ټولو هغه خلکو معلومات شریک کړی چې تاسې ورسره له نږدې څخه اړیکه نیولې وي ترڅو دوی وکولای شي د هغوی د روغتیا او خوندیتوب سره مرسته وکړي.
- که حالت مو ډېر خراب وي، لکه د ساه اخستلو ستونزه ولری، نو له خپل ډاکتر سره اړیکه ونیسی. که غواړی د ډاکتر سره وګورئ نو لومړی ورته زنګ ووهئ. تر هغه پورې کلینیک ته مه ځئ تر څو مو چې د ډاکتر سره په تلیفون خبرې نه وي کړې.

**ب. هغه ناروغان چې شدیدې نښې او علایم ولري په روغتون کې ساتل کېږی او هلته تر درملنې لاندې نیول کېږي. ستاسې ډاکتر او CDC کولای شی تاسې ته هغه وخت مشخص کړي چې د اړتیا په وخت کې تاسې په روغتون کې بستر شئ.**